**بسم الله الرحمن الرحيم**

## الهي ډالۍ او پيغامونه

**خبر:**

په امريکا او ځينو لوديځو دولتونو کې لاريونونه او اقتصادي رکود.

**تبصره:**

بشر په تېرو ۱۰۰ کلونو کې دوې ایډیولوژۍ ازمایلې دي. یوې له خالق څخه انکار وکړ او له انساني فطرت سره مخالفه وه، په پایله کې له منځه لاړه او وپاشل شوه. بلې دین له ژوند بېل کړ، عاجز عقل ته یې د قانون جوړونې دنده ورکړه او ګټه یې اصلي معیار او ځان غوښته یې محور وګرځوله. بشر یې تباه او د هغه ژوند یې له پرېشانۍ او ستونزو سره مخ کړ.

هغه ځواک چې د رهبرۍ او تمدن ادعا یې لرله، علم او فن یې بې وسه شو. انسان یې په معنیوي خلا او ستونزو کې ګېر پرېښود؛ که څه هم په ښکاره په نعمت کې و.

څه یې چې غوښتل، اغوستل یې او څه به یې چې غوښتل خوړل به یې او په کومه بڼه یې چې غوښتل ژوند وکړي، همغسې به یې کول؛ خو کله چې وېرې، ګډوډۍ او پرېشانۍ بشر له ګواښ سره مخ کړ، د پانګوالۍ نظام بېوسي یې ټولو ته وښوده.

کله چې د کورونا بحران ښکاره شو، ختیځ او لوېدیځ ته ورسېد، د نظامونو ناکامي له هغه سره په تعامل او درملنه کې ښکاره شوه. په امریکا کې د کورونا ویروس له کبله د مړو شمېر تر ۱۰۰ زرو واوښت. دغه هېواد هڅه وکړه چې په خپله ناکامۍ کې چین ګرم وبولي؛ په داسې حال کې چې د چین جنایت هم له امریکا کم نه دی. د یوې اعلامیې پر اساس په امریکا کې اقتصادي رکود تر کورونا وړاندې اټکل شوی و، څو په دې سره هلته د غربیانو پر ماتو یوه بله هم ور ډېره شي.

تر هغه وروسته لوی او سخت لاریونونه و چې په امریکا او لودیځو هېوادونو کې ترسره شول. په یادو لاریونونو کې یوازې تور پوستي نه وو، بلکې ټول امریکایان د پانګوالۍ نظام پر وړاندې راپورته شوي وو.

بحرانونه، پرله پسې جګړې، قوم او نيژادپالنه هغه څه وو، چې غرب يې له نورو ستونزو او کشمکشونو سره مخ کړ. الهي ډالۍ او پيغامونه د ټولو بنده‌ګانو لپاره د دې لامل کېږي، څو خپلې ژمنې پر ځای کړي او د الله سبحانه وتعالی پر شريعت منګولې ټينګې کړي.

د دې تر څنګ د ملګرتيا لاس هغو کسانو ته ورکړي چې مخلصانه د پانګوالۍ نظام له مفسدې عقيدې څخه د بشريت د ژغورنې لپاره کار کوي.

څه چې په لوېديځ کې تېرېږي، د الله سبحانه و تعالی له طرفه ټول اسلامي امت په ځانګړي ډول زمونږ ورونو او ځواکمن اسلامي پوځ ته سوغات دی، څو بيرته را وګرځي د امت هغې برنامې ته چې حزب التحرير د اسلامي ژوند لپاره بيان کړې، نصرت ورکړي. همدارنګه د نبوت پر تګلاره خلافت اعلان کړي، څو الله سبحانه تعالی راضي شي او ټول بشر ته د عدل او ارامتيا په وسيله سوکالي ور په برخه شي.

غرب چې اوس له کومې ببوسۍ سره مخ دی، د حق پر وړاندې نور د درېدو توان نه لري. خپلو مزدورانو ته د مرستې لاس هم نه شي ورکولی؛ يعنې اوسني غلام حکام چې هغوی يې د الله سبحانه وتعالی پر بندګانو او ځمکو واکمن کړي دي.

الهي پيغامونه ښيي چې امريکا او غرب هسې کاغذي پړانګ او خيال دی او تمدن يې نور د ماتې په درشل  کې دی. اې د الله سبحانه وتعالی بنده‌ګانو! الله سبحانه وتعالی تاسو ته په تمه دی، څو اوسني نظامونه ړنګ کړئ او د دنيا او اخرت خير ته ستانه شئ. بايد لوبه کوونکي د لوبې د تر لاسه کولو لپارهله يو بل سره لوبه وکړي او په دې لاره کې سبقت وکړي.

**ليکونکی: داکتر عبدالله ناصر- ولايه اردن**

**ژباړن: الهام پردېس**